قَالَ جِبْرِيلُ عليه السلام: يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنِ الإِسْلَامِ. (مسلم)

# عِزّ الإسلام

مؤلف: مولوي محمد حسن جان "مدني" عفا الله عنه

مدرّس بجامعة العلوم الاسلامية العثمانية

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه


✍ د کتاب نوم: عن الاسلام

✍ مؤلـــــف: مولوي محمد حسن جان ((مدني))

✍ د چاپ شمېر: ۱۰۰۰

✍ د چـاپ وار: دريم وار

✍ د چاپ کال: ۱۴۴۶هـ ق

✍ اوډنه او سکښته: د جامعة العلوم الاسلامية العثمانية د کمپيوټر څانګه

✍ خپروونکی: جامعة العلوم الاسلامية العثمانية،کندهار


**يادونه**: د کتاب د چاپ ټول حقوق د خپروونکي سره محفوظ دي.

# ايمان

## ايمانِ مجمل (مختصر)

آمَنْتُ بِاللهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِه.

ما پر الله جل جلاله ايمان راوړيدی، څنګه چي هغه د خپلو نومونو او صفتونو سره دی او ما د هغه ټولو حُکمونو ته غاړه ايښې ده.

## ايمانِ مُفصّل (تفصيلي)

آمَنْتُ بِاللهِ وَمَلٰئِكَتِه وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ.

ما ايمان راوړيدی پر الله جل جلاله او د هغه پر ملايكانو (مي ايمان راوړی دی) او د هغه پر كتابونو، د هغه پر رسولانو او د قيامت پر ورځ باندي او پر دې (مي ايمان دی)، چي د خير او شر تقدير د الله د جانبه دی او تر مرګ وروسته پر دوهم وار ژوندي كېدو مي ايمان راوړی دی.

# شپږ کلمې

## (۱): اوله کلمه طیبه

لاَ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ.

د الله جل جلاله څخه ماسېوا هيڅوک د عبادت وړ نسته او حضرت محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دی.

## (۲): دوهمه کلمه شهادت

أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

زه شاهدي ورکوم، چې د الله جل جلاله څخه ماسېوا هيڅ د عبادت وړ څوک نسته؛ هغه يوازي دی، د هغه هيڅ شريک نسته او زه شاهدي ادا کوم، چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی.

## (۳): دريمه کلمه تمجيد

سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ، وَ اللّٰهُ اَکْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

زه د الله جل جلاله پاکي بيانوم او ټوله ستايني الله جل جلاله لره دي، د الله تعالی څخه ماسېوا د عبادت وړ هيڅوک نسته ، الله جل جلاله تر ټولو لوی دی او د ګناهونو څخه د ځان ساتني طاقت او پر نيکو کارونو د کولو قوت يوازي د الله جل جلاله د طرفه څخه دی؛ هغه (الله) چې د لوړ شان او عظمت خاوند دی.

## (۴): څلرمه کلمه توحيد

لَآ إِلٰــهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْــدَهُ لاَ شَرِيــكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَـهُ الْحَمْــدُ يُحْيِيْ وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَـدًا اَبَـدًا ذُوْالْجَلاَلِ وَالْاِكْـرَامِ بِيَــدِهِ الْخَــيْرُ وَهُـوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَـدِيرٌ ؕ

د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه ماسېوا بل د عبادت وړ څوک نسته، هغه يوازي دی، د هغه هيڅ شريک نسته، واکمني خاص ده لره ده او ستايني خاص ده لره دي؛ هغه څوک ژوندی کوي او څوک مړ کوي او هغه جَلَّ جَلَالُهُ همېشه ژوندی دی، پر هغه هيڅکله مرګ نه راځي، هغه د عظمت او لويي خاوند دی، خير (بهتري) د هغه په لاس کي دی او هغه پر هر شي قدرت لرونکی دی.

## (۵): پنځمه کلمه استغفار

اَسْتَغْـفِرُاللّٰهَ رَبِّيْ مِـنْ كُلِّ ذَنْبٍ اَذْنَبْتُهُ عَـمَدًا اَوْ خَطَأً، سِـرًّا اَوْ عَلانِيَةً وَّ اَتُوْبُ اِلَيْـهِ مِنَ الذَّنْبِ الَّــذِيْ اَعْلَــمُ وَمِنَ الــذَّنْبِ الَّـذِيْ لَآ اَعْـلَـمُ اِنَّــكَ اَنْــتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ

زه د خپل پالونکي الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه بخښنه غواړم د هري ګناه څخه، چي ما کړې وي، قصدًا مي کړې وي او که په هېره سره، پټه مي کړې وي او که په ښکاره سره او زه د ده حضور ته توبه کاږم د هغه ګناه څخه، چي زه په خبر يم او د هغه ګناه څخه چي زه نه يم په خبر؛ يقيناً ته په پټو ښه خبر يې،

وَسَتَّـــارُ الْعُيُوْبِ وغَفَّـارُ الذُّنُوْبِ وَلاَحَوْلَ وَلاَقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

او د عيبونو بنه پټونکی يې او ته زيات ګناه بخښونکی يې او د ګناهونو څخه د ځان ساتنې طاقت او پر نيکيو د کولو قوت يوازې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د طرفه څخه دی، هغه (الله) چې د ستر شان او عظمت خاوند دی.

## (۶): شپږمه کلمه رَدِّ کفر

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِکَ مِنْ اَنْ اُشْرِکَ بِکَ شَيْـئًا وَّ اَنَـا اَعْلَـمُ بِـهٖ وَاَسْتَغْفِرُکَ لِمَا لاَ اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَتَبَرَّاْتُ مِنَ الْکُفْرِ وَالشِّرْکِ وَالْکِذْبِ وَالْغِيْبَةِ وَ الْبِدْعَـةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَ الْفَـوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِیْ کُلِّهَا وَاَسْلَمْتُ وَاَقُوْلُ لاَ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّـدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

الهي! زه ستا پناه غواړم د دې څخه، چې زه يو شی ستا سره شريک کړم او زما سره علم وي او زه معافي غواړم ستا څخه د هغې ګناه په اړه، چې د هغه علم زما سره نه وي، ما د هغه (ګناه) څخه توبه کښلې ده او زه د کفر، شرک، دروغو، غيبت، بدعت، چغلۍ، بدکاريو، تهمت لګولو او نورو هر ډول ګناهونو څخه بيزاره يم او ما د فرمانبردارۍ سر کښته کړی دی او زه اقرار کوم، چې بېله يوه الله څخه بل د عبادت وړ هيڅوک نسته او محمد ﷺ د الله تعالی رسول دی.

# نموذج

# اذان

اَللّٰهُ اَكْبَــرُ ، اَللّٰهُ اَكْبَــرُ

اَللّٰهُ اَكْبَــرُ، اَللّٰهُ اَكْبَــرُ

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ

حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ

حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ

اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

(ابو داود: ۴۹۹)

الله جَلَّ جَلَالُہٗ تر ټولو لوی دی، الله جَلَّ جَلَالُہٗ تر ټولو لوی دی، الله جَلَّ جَلَالُہٗ تر ټولو لوی دی، الله جَلَّ جَلَالُہٗ تر ټولو لوی دی، زه شاهدي ادا کوم، چي د الله جَلَّ جَلَالُہٗ شخه پرته هیڅ د عبادت وړ څوک نسته ، زه شاهدي ادا کوم ، چي د الله جَلَّ جَلَالُہٗ شخه پرته هیڅ د عبادت وړ څوک نسته ، زه شاهدي ادا کوم ، چي محمد (ﷺ) د الله جَلَّ جَلَالُہٗ رسول دی ، زه شاهدي ادا کوم، چي محمد (ﷺ) د الله جَلَّ جَلَالُہٗ رسول دی، راسئ د لمانځه وطرف ته، راسئ د لمانځه وطرف ته، راسی د کامیابۍ وطرف ته، راسی د کامیابۍ وطرف ته، الله جَلَّ جَلَالُہٗ تر ټولو لوی دی، الله جَلَّ جَلَالُہٗ تر ټولو لوی دی، د الله جَلَّ جَلَالُہٗ پرته د عبادت وړ هیڅوک نسته.

**فائده**: د سهار په وخت کښي د حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ وروسته دوه واره ( اَلصَّلاَةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ ) ( لمونځ تر خوب بهتره دی ) ویل کیږي. (ابو داود: ۵۰۰)

## اقامت

کله چي فرض لمونځ په جماعت سره ادا کيږي؛ نو د لمانځه د شروع څخه يو کس د اذان په ډول کلمات وايي، چي و دغه ته اقامت ويل کيږي.

يوفرق ئې تر منځ د ادی، چي په اقامت کښې تر حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ وروسته دوه واره ( قَدْ قَامَتِ الصَّلاَةُ ) ( لمونځ د اداکېدو په حال کي دی ) ويل کيږي. (ابو داود: ۴۹۹)

**فائده**: د اذان د کلمو جواب !

کله چي اذان شروع سي ؛ نو اورېدونکی به د اذان کونکي د کلمو جواب ورکوي ، کومي کلمې چي اذان کونکی وائي او رېدونکی به هغه کلمات د ځانه سره کرار وائي.

البته کله چي مؤذن (حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ) او (حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ) کلمات وائي ؛ نو اورېدونکی به ( لاَحَوْلَ وَلاَقُوَّةَ اِلاَّبِاللّٰهِ ) ووائي ، او د سهار په اذان کي به د (اَلصَّلاَةُ خَيْرٌمِّنَ النَّوْم ) په جواب کي ( صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ ) وائي.

## د اذان څخه وروسته دعاء

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلاَةِ الْقَآئِمَةِ ، اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَ نِ الَّذِىْ وَعَدْتَّهُ. (بخاري: ۶۱۴)

اې الله ! د دغه پوره بلنې او درېدونکي لمانځه ربه، محمد ﷺ ته وسيله (په جنت کښې يوه درجه ده) ورکړه او فضيلت ورکړه او هغه داسي مقام محمود ته ورسوه، چي تا د ده سره وعده کړې ده.

# د لمانځه د اذکارو تفصیل

## تکبیر: ( اللّٰهُ أَکْبَرُ)

اَللّٰهُ أَکْبَرُ

الله جَلَّ جَلَالُهُ تر ټولو لوی دی.

## ثناء: (سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ)

سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَالٰی جَدُّکَ وَ لَآ اِلٰهَ غَیْرُکَ.
(مسلم:۹۱۸)

یا الله جَلَّ جَلَالُهُ زه ستا پاکي بیانوم او ستا ستاینه او صفت کوم او ستا نوم ډېر برکتناکه دی او ستا شان ډېر لوی دی او ستا څخه پرته هیڅ د عبادت وړ څوک نسته.

## تعّوذ (اَعُوْذُ بِاللّٰهِ)

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

زه د الله جَلَّ جَلَالُهُ پناه غواړم د ترټل سوي شیطان څخه.

## تسميه (بِسۡمِ ٱللَّهِ)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ۝١

د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نامه سره (شروع کوم)، چې ډېر زيات مهربان او ډېر رحم کوونکی دی.

## سورة الفاتحة (اَلۡحَمۡدُ لِلَّهِ)

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢
ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣
مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٤
إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥
ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦
صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧

(آمين) الله ته مو دعاء قبوله کړه!

هر ډول ستاينې خاص الله جَلَّ جَلَالُهُ لره دي، چې د عالمونو پالونکی دی، ډېر مهربان او زيات رحم کونکی دی، د جزا د ورځې مالک دی. (اې الله) موږ يوازې ستا عبادت کوو او خالص ستا څخه مرسته غواړو، موږ ته سيده لاره راوښوه، د هغو کسانو لار، چې تا پر هغو انعام کړی دی، نه لاره د هغو کسانو، چې پر هغوی ستا غضب کړل سوی دی او نه هم د ګمراهانو لار. آمين

## سورة الاخلاص

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ۝٤.

ووايه الله جل جلاله يو دی، تهول الله جل جلاله ته اړ دي، هغه هيچا ته اړ نه دی، نه ئې ځوک زېږولی دی او نه هغه زېږول سوی دی او د هغه هيڅوک سيال (برابر) نسته.

## د ركوع تسبيح

سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡمِ

زه د خپل لوی رب جل جلاله پاکي بيانوم.

## تسميع او تحميد ويل

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَهٗ.

رَبَّنَا لَكَ الۡحَمۡدُ.

(بخاري: ٧٢٢)

الله جل جلاله د (هغه چا) وينا واورې ده، يعني قبوله يې کړه چا چي د هغه وکړه. اې زموږ ربه خاص تا لره ستاينه ده.

## د سجدې تسبیح

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى

زه د خپل پالونکي جَلَّ جَلالُهُ پاکي بیانوم، چې تر ټولو لوړ دی.

## تشهد (اَلتَّحِيَّاتُ)

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ ط اَلسَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ ط أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

(بخاري: ۸۳۵)

ټول قولي عبادتونه، ټول فعلي عبادتونه او ټول مالي عبادتونه خاص الله جَلَّ جَلالُهُ لره دي، سلام دي وي پر تا اې نبي او د الله رحمتونه او برکتونه (دي پر تا وي)، پر موږ او د الله پر نیکو بندګانو دي سلام وي،

زه شاهدي ورکوم، چې د الله تعالی څخه پرته هیڅوک د عبادت وړ نسته او شاهدي ادا کوم، چې محمد ﷺ د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى بنده او رسول دی.

## درود شريف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى اٰلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ط

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى اٰلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ط (بخاري:۳۳۷۰)

اې الله ! رحمت نازل کړه پر محمد ﷺ او د هغه پر ال (کورنۍ) باندي، لکه ځنګه چي تا رحمت نازل کړی دی پر ابراهيم عليه السلام باندي او د هغه پر ال باندي، بېشکه ته د ستايني او لويي وړ يې.

اې الله ! برکت نازل کړه پر محمد ﷺ او د هغه پر ال (کورنۍ) باندي ، لکه ځنګه چي تا برکت نازل کړی دی پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر ال باندي، بېشکه ته د ستايني او لويي وړ يې.

## تر درود وروسته دعاء

اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ. (بقرة:۲۰۱)

اې زموږ ربه ! موږ ته په دنيا کښي هم نعمت را کړې او په اخرت کښي هم نعمت را کړې او موږ د دوږخ له عذابه وساتې.

## بله دعاء

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْمًا كَثِيْرًا وَّ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ فَاغْفِرْلِيْ مَغْفِرَةً مِّنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِيْ اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ.
(بخاري: ۸۳۴)

يا الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی دی او بیله تا څخه هیڅوک ګناه نسي بخښلای؛ نو ته مي ستا په خصوصي بخښنه سره وبخښه او پر ما رحم وکړه! بېشکه ته بخښونکی او ډېر رحم کوونکی یې.

## سلام

اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ

پر تاسو دي سلامتیا او د الله ﷻ رحمت وي.

## د لمانځه وروسته ذکر

اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ. (مسلم: ۱۳۶۳)

يا الله! ته سلامتي ورکوونکی یې، ستا له طرف څخه سلامتي (راځي)، ته ډېر ستریې، اې د عظمت او احسان څښتنه!

**فائده:** د فرض لمانځه وروسته (۳۳) واره سبحان الله، (۳۳) واره الحمد لله او (۳۴) واره الله اکبر ویل ډېر زیات ثواب لري. (بخاري:۸۴۳)

## دعاء قنوت

اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلاَ نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ط اَللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ ولَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَ إِلَيْكَ نَسْعیٰ وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشیٰ عَذَابَكَ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ

(شرح معاني الآثار:۱۴۷۵،مصنف ابن ابي شيبة:۳۰۳۲۶)

الهي! موږ ستا څخه مرسته غواړو او ستا څخه بخښنه غواړو او پر تا ایمان لرو او پر تا توکل کوو او ستا ډېره ښه ثناء او ستاینه کوو او ستا شکر اداء کوو او ستا ناشکري نه کوو او موږ جلا (ليري کوو) او پرېږدو هغه څوک، چي ستا نافرماني کوي، اې الله جل جلاله! خاص ستا عبادت کوو او تا ته لمونځ کوو او سجده کوو او همدا تا ته په تلواره او ستا خدمت ته په تېزۍ راځو تلوار کوو او ستا د رحمت امید لرو او ستا د عذاب څخه بېرېږو، یقیناً ستا عذاب کافرانو ته رسېدونکی دی.

# پاکي

# د اوداسه مسائل

## د اوداسه فرضونه

سوال: د اوداسه فرضونه څو دي؟
جواب: د اوداسه فرضونه څلور دي.
سوال: د اوداسه څلور فرضونه کوم دي؟
جواب:
①: د ټول مخ پرېولل ②: دواړه لاسونه د څنګلو په شمول پرېولل، ③: د سر څلرمه برخه مسحه کول ④: دواړې پښې د بجلکو په شمول پرېولل.

## د اوداسه سنتونه

سوال: په اوداسه کښې سنتونه څو دي؟
جواب: په اوداسه کښې سنتونه دیارلس دي.
سوال: د اوداسه سنتونه کوم کوم دي؟
جواب:
۱: نیت کول، ۲: بسم الله ویل، ۳: په شروع کې دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې پرېولل ۴: مسواک کارول، ۵: درې واره په خوله اوبه لغړول، ۶: درې واره په پزه اوبه لغړول، ۷: د ږیرې خلالول،

۸: د لاسونو او پښنو ګوتي خلالول، ۹: هر اندام درې درې واره پرېولل، ۱۰: د ټول سر مسحه کول، ۱۱: د دواړو غوږونو مسحه کول، ۱۲: په ترتیب سره اودس کول، ۱۳: پرلپسې والی (اندامونه یو په بل پسې دستي پرېولل).

## د اوداسه مستحبات

سوال: د اوداسه مستحبات څو دي؟
جواب: د اوداسه مستحبات پنځه دي.
سوال: د اوداسه مستحبات کوم دي؟
جواب:
۱: په راسته اندام سره شروع کول، ۲: د غاړې مسحه،
۳: اودس خپله کول، بېله ضرورته د بل چا څخه مرسته نه اخیستل،
۴: مخ پر قبله اودس کول، ۵: پر پاک او لوړ ځای اودس کول.

## د اوداسه مکروهات

سوال: د اوداسه مکروهات څو دي؟
جواب: د اوداسه مکروهات اته دي.
سوال: په اوداسه کښې مکروه کارونه کوم کوم دي؟
جواب:
۱: بېله خاص ضـرورته په اوداسـه کښې د دنیا خبري کول، ۲: پر

ناپاکـه ځای اودس کول، ۳: په اوبو کښې توف کول یا پزه سوړل، ۴: پزه په راسته لاس پاکول، ۵: پر مخ باندي په زوره اوبه اچـول، ۶: اوبه تر ضرورت زياتي مصرفول، ۷: تر ضرورت کمي اوبه کارول ۸: د سنت طریقې خلاف اودس کول.

## د اوداسه ماتوونکی اعمال

سوال: اودس په کومو شیانو سره د منځه ځي؟

جواب: اودس په لاندي اتو (۸) شیانو سره د منځه ځي:

(۱): انساني ضرورت کول.
(۲): د هوا (باد) وتل.
(۳): وینه یا نَو وتل او د بدن پاکي برخي ته بهېدل.
(۴): چي تکیه ئې کړې وي بیده کېدل.
(۵): بې سده کېدل.
(۶): لیونی کېدل.
(۷): په ډکه خوله قی وهل.
(۸): په لمانځه کښې قهقه خندا کول.

# د غسل مسائل

## د غسل فرضونه

سوال: د غسل فرضونه څو او کوم دي؟
جواب: د غسل فرضونه درې دي او په لاندې ډول دي:

- په خوله اوبه لغړول.
- په پزه کې اوبه اچول.
- ټول بدن یو ځل په اوبو پرېولل.

## د غسل سنتونه

سوال: د غسل سنتونه څو دي؟
جواب: د غسل سنتونه پنځه (۵) دي.

سوال: د غسل سنتونه کوم کوم دي؟
جواب: د غسل سنتونه په لاندې ډول دي:
(۱): نیت کول.
(۲): دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې پرېولل.
(۳): استنجاء وهل او پر بدن نوره پرته مرداري لیرې کول.
(۴): پوره اودس کول.
(۵): پر ټول بدن درې ځله اوبه تویول.

# د تیمم مسائل

## د تیمم فرضونه

سوال: په تیمم کښې څو فرضونه دي؟
جواب: د تیمم درې فرضونه دي:

- نیت کول.
- پر پاکه خاوره یا د خاورې د جنسه څخه پر بل شي باندې دواړه لاسونه موښل او پر خپل مخ تېرول.
- دوهم ځل بیا دواړه لاسونه پر خاوره یا د خاورې د جنسه پر بل شي موښل او بیا دواړه لاسونه تر څنګلو پورې په مسحه کول.

## د تیمم سنتونه

سوال: د تیمم سنتونه څو دي؟
جواب: د تیمم سنتونه پنځه (۵) دي:

۱ـ بسم الله ویل.
۲ـ پر خاوره لاسونه د ورغو د طرفه وهل.
۳ـ ګوتې خلاصول.
۴ـ پرلپسې اندامونه مسحه کول.
۵ـ اندامونه په ترتیب سره مسحه کول.

# د لمانځه احکام

## د لمانځه شرطونه

سوال : د لمانځه شرطونه څو دي؟
جواب : د لمانځه شرطونه (۷) دي.

سوال: د لمانځه شرطونه کوم دي؟
جواب : د لمانځه شرطونه دا دي:
(۱): د بدن پاکول.
(۲): د لباس يا جامو پاکول.
(۳): د لمانځه د ځای پاکول.
(۴): عورت پټول.
(۵): د وخت داخلېدل.
(۶): د قبلې و طرف ته مخ کول.
(۷): نيت کول.

## د لمانځه فرضونه

سوال: د لمانځه فرضونه څو دي؟
جواب: د لمانځه فرضونه (٧) دي.

د لمانځه فرضونه کوم کوم دي؟
جواب: د لمانځه فرضونه دا دي:
(١): تکبير تحريمه (الله اکبر) ويل.
(٢): درېدل.
(٣): قرائت ويل (د قران کريم څخه درې کوچني ايتونه يا يو لوی ايت ويل).
(۴): رکوع کول.
(۵): سجده کول.
(۶): اخره ناسته کول (د التحياتُ د ويلو په اندازه).
(٧): په خپل عمل سره د لمانځه څخه وتل.

سوال: که د لمانځه د شرطونو او يا هم فرضونو څخه يو پاته سي؛ نو د لمانځه حکم ئې څنګه دئ؟
جواب: که د لمانځه د شرطونو او يا هم فرضونو څخه يو هم پاته سي؛ که قصداً وي او که په هېره سره وي، لمونځ ئې نه صحيح کيږي، بيرته به ئې د سره راګرځوي.

## د لمانځه واجبات

سوال: په لمانځه کښي څو شیان واجب دي؟
جواب : په لمانځه کښي شپاړس شیان واجب دي.

سوال : د لمانځه شپاړس واجبات کوم کوم دي:
جواب:
1) سورة الفاتحة ویل.
2) یو سورت یا هم د قران کریم دریٖ کوچني یا یو لوی ایت ویل.
3) د فرضي لمونځونو په اولو رکعتونو کښي قرائت ویل.
4) قومه کول (تر رکوع وروسته سم سیده دریٖدل).
5) جلسه کول (د دواړو سجدو ترمنځ په اطمینان سره کښیٖنستل).
6) اوله ناسته کول.
7) تشهد (التحیاتُ) ویل.
8) په وتر لمانځه کښي دعاء قنوت ویل.
9) د السلام علیکم ورحمة الله په ویلو سره لمونځ ختمول.
10) د امام لپاره، د سهار په لمانځه کي او د مابنام او ماخستن په اولو دوو رکعتونو کښي قرائت په لوړ اواز ویل او د ماپښین او مازدیګر په لمونځونو کښي قرائت په کښته اواز یعني پټ ویل.
11) د دعاء قنوت څخه مخکي تکبیر ویل.
12) د لمانځه هر جزء په اطمینان سره ادا کول.

13) د دوارو اخترونو په لمونځونو کي شپږ زوائد تکبیرونه ویل.
14) په سجده کښې پزه پر مځکه لګول.
15) د لمانځه اعمال په خپل ترتیب کول.
16) د اخترو په لمونځونو کي د دوهم رکعت څخه رکوع ته په تلو سره تکبیر ویل.

سوال: که په لمانځه کښې د پورته واجباتو څخه کوم یو پاته سي؛ نو حکم ئې څه دئ؟
جواب: که په لمانځه کښې د پورته واجباتو څخه کوم یو سهواً یعني په خطا سره پاته سي؛ نو تر سلام ګرځولو وروسته سجده سهوه واجبوي او که قصداً پاته سي؛ نو بیرته د لمانځه د سره راګرځول واجبوي.

## د لمانځه سنتونه

سوال: د لمانځه سنتونه څو دي؟
جواب: د لمانځه سنتونه (۱۳) دي:

(۱): لاسونه د غوږونو برابرۍ ته پورته کول.
(۲): نارینه لره تر نامه لاندي د لاسونو نیول او ښځینه لره پر سینه باندي ایښوول.
(۳): ثناء (سبحنک اللهم) ویل.

(۴): د الحمد لله څخه تر مخه بسم الله ويل.
(۵): په رکوع او سجده کښې تسبيحات ويل.
(۶): سمع الله لمن حمده، ربنا لک الحمد ويل.
(۷): د رکوع او سجدې تسبيحات لږ تر لږه درې واره ويل.
(۸): د فرضو په اخيرو رکعتونو کښې (تر اولو دوو رکعتونو وروسته) الحمد لله ويل.
(۹): درود شريف ويل.
(۱۰): دعاء ويل.
(۱۱): دوهم سلام ويل.
(۱۲): د سلام پر وخت راسته او چپه طرف ته مخ اړول.
(۱۳): د تکبير تحريمه څخه ماسوا نور تکبيرونه ويل.

سوال: که د لمانځه سنتونه د يو چا څخه پاته سي؛ نو د لمانځه حکم ئې څه دئ؟

جواب: که د لمانځه د سنتو څخه يو او يا هم يو څو پاته سي؛ نو لمونځ ئې د سره راګرځول نه غواړي؛ البته د سنت د پاته کېدلو لکبله ئې د لمانځه ثواب کميږي.

## د لمانځه فاسدوونکي

سوال: په لمانځه کښې د کومو کارونو په سبب لمونځ فاسدیږي؟
جواب: هغه شیان، چې لمونځ خرابوي (۱۳) شیان دي، چې تفصیل ئې داسې دئ:
(۱): په قصدي او خطا ډول په لمانځه کښې خبرې کول.
(۲): په لمانځه کې اُه اُه، یا اُف اُف کول.
(۳): په زوره ژړل.
(۴): قران کریم په لیدلو ویل (چې و صفحو ته ئې ګوري).
(۵): یو چاته سلام ویل یا د یو چا د سلام جواب ورکول.
(۶): د ترچي کوونکي په الحمد لله ویلو یرحمک الله ویل.
(۷): په لمانځه کښې خوراک کول.
(۸): د خوشحالۍ د خبر په اوریدلو الحمد لله او یا د غم د خبر پر وخت (انا لله و انا الیه راجعون) ویل.
(۹): د الله اکبر د ویلو پر وخت د الله همزه یا د اکبر همزه یا د اکبر باء کشول.
(۱۰): د ونه کریدل، چې سینه ئې د قبلې څخه واوړي.
(۱۱): نارینه د ښځې سره په یوه لمانځه کې برابریدل.
(۱۲): اودس ماتیدل.
(۱۳): په لمانځه کې په دومره لوړ اواز خندل، چې د خندا اواز په خپله واوري.

سوال: که د يو چا څخه په پورته شيانو کي يو هم منځ ته راسي؛ نو د لمانځه حکم ئې څه دی؟
جواب: که د يو چا څخه يو د يادو شيانو څخه ترسره سي؛ نو لمونځ ئې فاسد او خراب سو، بيرته د لمانځه د سره راګرځول ورباندي حتمي دي.

## د لمانځه مکروهات

سوال: په لمانځه کښي مکروه اعمال څو او کوم کوم دي؟
جواب: په لمانځه کښي مکروه (نامناسب) کارونه (۱۳) دي:

1) په لمانځه کښي شا و خوا کتل.
2) د ګوتو ټکان ايستل.
3) د سنت طريقې خلاف دريدل.
4) رکوع د سنت خلاف کول.
5) سجده د سنت خلاف کول.
6) په ناسته کي د سنت خلاف کښېنستل.
7) داسي ځای لمونځ ادا کول، چي هلته عکسونه وي.
8) په بدن يا کالو اخته کېدل.
9) د لنګوټې پر ول باندي سجده کول.
10) په چټلو او خيرنو کالو کښي لمونځ کول.
11) په لمانځه کښي سترګي پټول.

12) بېله ضرورته ټوخی کول.
13) کالي او جامې پر ځان را ټولول (په لاسونو نیول).

**ضروري یادونه:** محترمو طالبانو او لوستونکو! د لمانځه د سنتونو، مفسداتو او مکروهاتو د پاره، چې کوم تعداد دلته لیکل سوی دی، دا اخري تعداد نه دی؛ بلکې فقهاء کرامو په لوړو کتابونو او فتاواوو کښې نور شیان هم ورسره یاد کړي دي، چې د اختصار په نظر کې نیولو سره دلته را جمع نه سول. د نورو مسائلو د پاره دې شایقین و لوړو کتابونو ته مراجعه وکړي.

## د مړي لپاره دعاء

اَللّٰهُــمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا، وَ مَيِّــتِنَا، وَ شَاهِدِنَا، وَ غَآئِبِنَا، وَ صَغِـيْرِنَا، وَكَــبِيْرِنَا، وَذَكَــرِنَا، وَأُنْــثَانَا ، اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِهِ عَلَى الْاِسْلاَمِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّافَتَوَفَّهُ عَلَى الْاِيْمَانِ،
اَللّٰــهُمَّ لَاتَحْرِمْنَااَجْرَهُ وَلاَتُضِلَّنَا بَعْدَهُ. (ابن اجه:۱۴۹۸)

اې الله جَلَّجَلَالُهُ! زموږ ژوندي ته او مړي ته، حاضر ته او غايب ته، کوچني ته او لوی ته او زموږ نر ته او ښځي ته بخښنه وکړې

اې الله جَلَّجَلَالُهُ! زموږ څخه چي چا ته ژوند ورکړې؛ نو د اسلام سره ژوند ورکړه او زموږ څخه چي چا ته مرګ راولې؛ نو د ايمان سره ئې مړ کړه.

اې الله جَلَّجَلَالُهُ ! د دې مړي له اجر څخه مو مه محرومه کوې او له هغه څخه وروسته مو مه بې لاري کوې.

## نابالغ مړه هلک ته دعاء

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّا جْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْـرًا وَّ اجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًـاً وَّمُشَفَّعًا. (الهداية)

يا الله جَلَّجَلَالُهُ دغه ماشوم زموږ لپاره فرط (ترمخه تللی او ترتيب جوړونکی) وګرځوه او دی زموږ د پاره ثواب او ذخيره وګرځوه او زموږ لپاره ئې شفاعت کوونکی او شفاعت قبليدونکی وګرځوه.

## نابالغي مړي انجلى ته دعاء

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً.

يا الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه ماشومه زموږ لپاره فرط (ترمخه تللې او ترتيب جوړونکې) وګرځوه او دا زموږ د پاره ثواب او ذخيره وګرځوه او زموږ لپاره ئې شفاعت کوونکې او شفاعت قبلېدونکې وګرځوه.

# څلوېښت مسنوني دعاګاني

### (۱): د سهار دعاء

اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ.

(ترمذي: ۳۳۹۱)

يا الله! ستا په قدرت سره موږ د سهار په وخت کښې داخل سوو او خاص ستا په قدت سره موږ د ماښام په وخت کښې داخل سوو او خاص ستا په قدرت سره موږ ژوندکوو، او خاص ستا په قدرت سره موږ مړه کيږو، او خاص ستا و طرفته ګرځېدل دي.

## (۲): د لمر راختلو وروسته دعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ اَقَالَنَا يَوْمَنَا هٰذَا وَلَمْ يُهْلِكْنَا بِذُنُوْبِنَا.

(مسلم:۱۹۱۱)

ټولي ستايني او صفتونه هغه الله ﷻ لره دي چا چي موږ په دغه نن ورځ کښي معاف کړو او زموږ د ګناهونو لکبله ئې موږ هلاک نکړو.

## (۳): د ماښام دعاء

اَللّٰهُمَّ بِكَ اَمْسَيْنَا وَبِكَ اَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَاِلَيْكَ النُّشُوْرُ.

(ترمذي:۳۳۹۱)

اې الله! ستا په قدرت سره موږ د ماښام په وخت کښي داخل سوو او خاص ستا په قدت سره موږ د سهار په وخت کښي داخل سوو او خاص ستا په قدرت سره موږ ژوند کوو او خاص ستا په قدرت سره مړه کيږو او خاص ستا وطرف ته بيرته تلل دي.

## (۴): د سهار او ماښام يوه ځانګړې دعاء

حضرت عثمان ﵁ فرمايي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چي هر سهار او ماښام دغه کلمات درې واره ووايي؛ نو هغه ته هيڅ شی هم ضرر نسي رسولای. په نورو روايتونو کي راځي، چي هيڅ يوه ناڅاپي بلا به نه په پوري کيږي. هغه کلمات دغه دي:

بِسْــمِ اللهِ الَّذِىْ لَايَضُرُّ مَـعَ اسْمِــهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ.

(ترمذي: ۳۳۸۸)

د الله په نامه سره (موږ سهار يا ماښام پيل کړی)، چي د هغه په نامه سره هيڅ شی نه په مځکه او نه هم په اسمان کښي ضرر رسولای سي او هغه ښه اوريدونکی او ښه خبردار دی.

## (۵): د بيدېدلو پر وخت دعاء

کله چي څوک د آرام کولو اراده وکړي؛ نو اودس دي تازه کړي او پر خپل بستر دي لاس تېر کړي، بيا دي پر راسته اړخ پريوځي، راسته لاس دي تر باړخو لاندي کښيږدي، دري واره دي دغه کلمات ووايي:

اَللّٰهُــمَّ قِـنِىْ عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَـادَكَ.

(ابو داود: ۵۰۴۷)

اې الله ﷻ ما ستا د عذاب څخه وساتې په هغه ورځ، چي ته خپل بنده ګان را جمع کوې.

## (۶): يا دي دغه دعاء ووايي

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا.

(بخاري: ۶۳۱۴)

يا الله ﷻ زه ستا په نامه سره مړ کيږم او ژوندی کيږم.

کله چي بديږي دغه تسبيحات دي ووايي:

سُبحَانَ اللهِ: (۳۳) ځله، اَلحَمدُلله: (۳۳) ځله، اللهُ اَكبَر (۳۴) ځله. (بخاري: ۳۷۰۵)

## (۷): د خوب څخه د راپورته کېدلو دعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ.
(بخاري: ۶۳۱۴)

ټول حمدونه (ستاينې) هغه الله ﷻ لره دي چا چې موږ د مړه کېدو څخه وروسته را ژوندي کړو او موږ خاص دده ﷻ وطرف ته ورګرځو.

## (۸): بيت الخلاء ته د ننوتلو دعاء

بيت الخلاء (تشناب) ته د داخلېدوسره سم (بسم الله) ويل کيږي او بيا لاندي دعاء ويل کيږي:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ.
(بخاري: ۶۳۲۲)

يا الله ﷻ! زه ستا پناه (ساتنه) غواړم د خبيثو پيريانو څخه، که نارينه وي او که ښځينه.

## (۹): د بيت الخلاء څخه د راوتلو دعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِیْ.
(ابن ماجه: ۳۰۱)

ټول حمدونه (ستاينې) هغه الله ﷻ لره دي، چا چې زما څخه تکليف رسوونکی شی ليري کړی او ما ته ئې سلامتي راکړه.

## (۱۰): د اوداسه د شروع دعاء

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.
(ابو داود: ۱۰۱)

د الله ﷻ په نامه سره (شروع کوم)، چې ډېر زيات مهربان او ډېر رحم کوونکی دی.

## (۱۱): د اوداسه وروسته دعاء

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ،

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ.
(ترمذي: ۵۵)

زه شاهدي اداء کوم، چې د الله ﷻ څخه ماسېوا هيڅوک د عبادت وړ نسته، هغه (الله ﷻ په ذات او صفاتو کښې) يوازې دی، ده لره هيڅ شريک نسته، او زه شاهدي اداء کوم، چې محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی.

اې الله! ما په زياته توبه کښونکو او ښه صفايي کوونکو کې شامل کړې.

## (۱۲): مسجد ته د ننوتلو دعاء

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ.
(مسلم: ۱۶۸۵)

اې الله ﷻ! وما ته ستا د رحمت دروازې را خلاصې کړه.

## (۱۳): د مسجد څخه د وتلو دعاء

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِكَ. (مسلم: ۱۶۸۵)

اې الله ! زه ستا څخه ستا د فضل غوښتنه کوم.

## کله چي د اذان ږغ واوري

مؤذن چي کوم کلمات وايي، اورېدونکی به هم هغه وايي او د(حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ) (حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ ) په جواب کښي به (لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ) وايي. (مسلم: ۸۷۶)

## (۱۴): د مجلس په پای کښي دعاء

سُبْحَانَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ، وَأَتُوْبُ إِلَيْكَ (ترمذي)

پاکي ده تا لره اې الله ﷻ ستا په صفت سره، زه شاهدي ادا کومه، چي ستا څخه ما سېوا بل د عبادت وړ هيڅوک نسته، زه ستا څخه بخښنه غواړم او ستا وخوا ته رجوع کوم.

## (۱۵): د سلام ګرځولو وروسته دعاء

د سلام ګرځولو وروسته به درې واره (اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ) وايي او د هغه څخه وروسته دي راتلونکی ذکر ووايي:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ تَبَارَكْتَ يَاذَاالْجَلاَلِ وَالْاِكْرَامِ. (مسلم:۱۳۶۲)

اې الله ! ته سلامتي ورکوونکی يې ، ستا له طرف څخه سلامتي (راځي)، ته ډېر ستر يې، اې د عظمت او احسان څښتنه!

## (۱۶): د وتر لمانځه وروسته درې واره دعاء

سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ.

(ابو داود: ۱۴۳۲)

زه پاکي بيانوم د هغه (الله) باچا، چې ډېر زيات سپېڅلی دی.

## (۱۷): د سهار او ماښام د لمونځونو وروسته دعاء

رسول الله ﷺ فرمايي: د سهار او ماښام د لمونځونو وروسته د يو چا سره د خبرو کولو څخه د مخه که (۷) واره لاندنۍ دعاء ووايې؛ نو که په دغه ورځ او يا دغه شپه مړ سي؛ نو ضرور به د دوږخ څخه خلاصون ترلاسه کړي. (ابو داود: ۱۷۵۳)

اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِىْ مِنَ النَّارِ.

اې الله ! ما د دوږخ د اور څخه وساتې.

(ابو داود: ۵۰۸۱)

## (۱۸): د کور څخه د وتلو دعاء

بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ.
(ترمذي: ۳۴۲۶)

زه د الله ﷻ په نامه سره (د کوره وځم)، ما پر الله ﷻ توکل کړی دئ، د ګناهونو څخه ګرځېدل او د عبادت کولو طاقت يوازي د الله ﷻ له طرفه دی.

## (۱۹): کور ته د ننوتلو دعاء

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا. (ابو داود: ۵۰۹۸)

اې الله! زه ستا څخه (کور ته) د ښه ننوتلو او (د کور څخه) د ښه وتلو غوښتنه کوم، موږ د الله ﷻ په نامه سره ننوتلو او د الله ﷻ په نامه سره ووتلو او موږ خاص پر خپل پالونکي الله ﷻ توکل او اعتماد کړی دی.

## (۲۰): د مريض د پوښتني پر وخت هغه ته دعاء

لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ إِنْ شَاءَ اللهُ.
(بخاري: ۳۶۱۶)

هيڅ پروا نلري، ان شاء الله دا مريضي به ستا د ګناهونو د پاکوالي سبب وي.

## (۲۱): بازار ته د ننوتلو دعاء

بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَ خَيْرَ مَا فِيْهَا وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَافِيْهَا.

زه د الله ﷻ په نامه سره ( داخل سوم) اې الله ! زه ستا څخه د دغه بازار د خير غوښتنه کوم او څه چي په دې بازار کي دي د هغه د خير (غوښتنه کوم) او په تا سره د دغه بازار د شر څخه پناه غوارم او د هغه څه د شر څخه (پناه غوارم) چي په دې بازار کښې دي.

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اُصِيْبَ فِيْهَا يَمِيْنًا فَاجِرَةً اَوْ صَفْقَةً خَاسِرَةً. (المستدرک: ۱۹۷۷)

اې الله ! زه په تا سره پناه غوارم د دې خبري څخه، چي دلته په دروغو قسم واخلم يا په معامله کښې تاوان وکړم.

## (۲۲): د خوراک د پيل دعاء

بِسْمِ اللهِ وَبَرَكَةِ اللهِ.
(المستدرک: ۷۰۸۴)

د الله په نامه سره او د الله په برکت سره (خوراک پيل کوم).

## (۲۳): که د خوراک په پيل کي (بِسْمِ اللهِ) هېره سي:

بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهُ وَآخِرَهُ.
(ابو داود: ۳۷۶۹)

د دغه (خوراک) په پيل او پای کښې د الله ﷻ نوم يادوم.

## (۲۴): د ډوډۍ څخه وروسته دعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّــذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِیْنَ.

(ترمذي: ۳۴۵۷)

ټول حمدونه هغه الله ﷻ لره دي، چا چي موږ ته خوراک راکړی او موږ ته ئې چیښاک راکړی او موږ ئې مسلمانان ګرځولي یو.

## (۲۵): د دعوت د ډوډۍ خوړلو وروسته دعاء

اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِیْ وَ اسْــقِ مَـــنْ سَقَــانِیْ.

(مسلم: ۵۴۸۳)

اې الله ! ته هغه چا ته خوراک ورکړې، چي ما ته ئې خوراک راکړی او هغه څوک اوبه کړې، چا چي زه اوبه کړم.

## (۲۶): د شیدو چیښلو وروسته دعاء

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِیْهِ وَ زِدْنَا مِنْهُ. (ترمذي: ۳۴۵۵)

اې الله ﷻ ! ته په دغه شیدو کښي موږ ته برکت واچوې او مـوږ ته ئې نـوري هـم را ډیري کـړې.

## (۲۷): کوربه ته د مېلمه دعاء

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ.

(ابو داود: ۳۷۳۱)

اې الله جل جلاله ! د دوی په رزق کښې برکت راوله او هغوی ته بخښنه وکړې او پر ورحمېږې.

## (۲۸): د روژې ماتولو دعاء

اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ.

(ابو داود: ۲۳۶۰)

اې الله جل جلاله! ستا د رضا د پاره ما روژه ونیوله او ستا په رزق مې روژه ماته کړه.

## (۲۹): د روژې ماتولو څخه وروسته دعاء

ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْاَجْرُ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ.

(ابو داود: ۲۳۵۹)

تنده ولاړه، رګونه لانده سول او که الله جل جلاله غوښتل، ثواب حاصل سوی دی.

## (۳۰): د چا په کور کښې چې روژه ماته کړي هغه ته دعاء

أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّآئِمُوْنَ، وَاَكَلَ طَعَامَكُمُ الْاَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ. (ابو داود: ۳۸۵۶)

ستاسو کره دې روژه لرونکې روژه ماته کړي او ستاسې ډوډۍ دې نېکان وخوري او ملائکه دې دعاء درته وکړي.

## (۳۱): د کالو اغوستلو وروسته دعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِحَوْلٍ مِّنِّیْ وَلاَقُوَّةٍ. (ابو داود: ۴۰۲۵)

ټوله غوره ستاینې هغه الله جَلَّ جَلَالُهُ لره دي، چې ما ته ئې دا جامه را واغوستله او زما د طاقت او قوت کارولو پرته ئې ما ته راکړه.

## (۳۲): د نوي کالو اغوستلو دعاء

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ کَسَوْتَنِیْهِ اَسْئَلُكَ مِنْ خَیْرِهٖ وَخَیْرِمَاصُنِعَ لَهُ وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهٖ وَشَرِّمَاصُنِعَ لَهُ.

(ابو داود: ۴۰۲۲)

اې الله جَلَّ جَلَالُهُ! ټوله غوره ستاینې تا لره دي، همدا تا سو ما ته (دا جامه) را واغوستله، زه د دې (کالو) د خیر او د څه لپاره چې جوړه سوې ده، د هغه د خیر سوال در څخه کوم او په تا سره د دې (جامو) د شر څخه پناه غواړم او د هغه څه له شر څخه (پناه غواړم) چې دا هغه لره جوړه سوې ده.

## (۳۳): په هنداره کښې د کتلو دعاء

اَللّٰهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِیْ فَحَسِّنْ خُلُقِیْ. (ابن حبان:۹۵۹)

اې الله جَلَّ جَلَالُهُ تا زما مخ را ښایسته کړی دی؛ نو زما اخلاق هم را ښایسته کړې.

## (۳۴): واده کوونکي ته د مبارکۍ دعاء

بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَ جَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ. (ترمذي: ۱۰۹۱)

الله جَلَّ جَلَالُهُ دي تا ته برکت درکړي او پر تا دي برکت نازل کړي او تاسو دواړه دي په خير سره يو ځای کړي.

## (۳۵): د ليلة القدر دعاء

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ. (ترمذي: ۳۵۱۳)

اې الله جَلَّ جَلَالُهُ! ته بخښونکی يې، بخښنه خوښوې؛ نو ته ما ته بخښنه وکړې.

## (۳۶): د نوي مياشتي د ليدلو دعاء

اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْاِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللّٰهُ. (ابو داود: ۳۴۵۱)

اې الله جَلَّ جَلَالُهُ! ته دغه (نوې مياشت) پر موږ باندي له برکت او ايمان او سلامتيا او اسلام سره راوخېژوه، (اې مياشتي!) زما او ستا رب الله جَلَّ جَلَالُهُ دئ.

## (۳۷): کله چي يو مسلمان په خندا ووينې هغه ته دعاء

اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ. (بخاري: ۳۶۸۳)

الله جَلَّ جَلَالُهُ دي تا همېشه په خندا وساتي.

## (۳۸): د سپرېدو پر وخت دعاء

سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْـقَلِبُوْنَ.
(الزخرف: ۱۳-،۱۴)

پاک دئ هغه ذات، چي موږ ته ئې دا سپرلۍ تابع کړې ده او موږ د هغه قابو کوونکي نه وو او موږ خپل رب ته خامخا بیرته تلونکي یو.

## (۳۹): د قبرونو د زيارت کولو دعاء

اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ.
(ترمذي: ۱۰۵۳)

اې د قبرونو او سېدونکو (مؤمنانو) پر تاسو دي سلامتيا وي، الله جل جلاله دي موږ او تاسو ته بخښنه وکړي، تاسو مخکي تللي یاست او موږ هم په تاسو پسې یو.

## (۴۰): د زمزم د اوبو چيښلو پر وخت دعاء

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَّافِعًا وَّ رِزْقًا وَاسِعًا وَّشِفَاءً مِّنْ كُلِّ دَاءٍ. (المستدرک:۱۷۳۹)

اې الله جل جلاله زه ستا څخه د ګټه رسوونکي علم او پراخ رزق او د هري ناجوړۍ څخه د شفاء سوال کوم.